


# د افغاني سرې میاشتې ټولنه
# ترګواښ لاندې د روغتیا ساتنې د پروژې طرزالعمل

د روغتیا څارنې پر ضد تاوتریخوالي
ته باید د پای ټکی کیښودل شي

دا د
**مرګ**او**ژوند**
موضوع ده

د افغاني سرې میاشتې ټولنه
جمعیت هلال احمر افغانی

د اړیکې شمیرې:

د نړیوال اړیکې: ۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳

د ملي ټولنې ویاند: ۰۷۲۸۹۰۰۰۳۷

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د مرکزی دفتر پوسټ بکس: ۳۰۶۶

برښنالیک:

dis@redcrescent.af
intdept@redcrescent.af

ویب پاڼه: www.redcrescent.af

پته: افغانستان، کابل، پنځمه ناحیه، افشار سیلو، د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر

شماره های تماس:

روابط بین المللی: ۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳
سخنگوی جمعیت ملی: ۰۷۲۸۹۰۰۰۳۷

آدرس الکترونکی:

dis@redcrescent.af
intdept@redcrescent.af

ویب سایت: www.redcrescent.af

پست بکس دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی : ۳۰۶۶

آدرس: افغانستان، کابل، ناحیه پنجم، افشارسیلو، دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی

## سرلیک:

په وسله والو نښتو او نورو پاتې بیړنیو حالاتو کې د کارکوونکو، وسایطو او روغتیایي ودانیو په وړاندې تاوتریخوالی شتون لري چې چې په افرادو، کورنیو او ټولنو باندې ډیرې اغیزې درلودلي دي.

په اوسنۍ نړۍ کې تاوتریخوالی یو له سترو بشري ستونزو څخه شمیرل کیږي چې د همدې لپاره د تاوتریخوالي ستونزه او په روغتیا ساتنې باندې د هغې اغیزې د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ په یو دیرشم نړیوال کنفرانس کې چې د ۲۰۱۱ کال په نوامبر کې جوړ شوی و مطرح شوې او د سره صلیب نړیوالې کمیټې له دولتونو، د غورځنګ له غړو او روغتیایي سکټورونو سره په سلا مشوره، تر ګواښ لاندې د روغتیا ساتنې پروژه یې د خوندي او اغیزمنو روغتیایي خدمتونو د لاسته وړاندې کولو په موخه، د ناپلوی، ناپییلتوب او بشرپالنې په رعایت سره چې د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ له اوګونو اصولو څخه دي رامنځته او اوس مهال نوموړې پروژه په هغو ستونزو باندې چې له بریدونو، غیر قانوني خنډونو، تبعیض او پوځي لاسوهنو څخه را ولاړې شوي چې په ټپیانو، ناروغانو، روغتیایي جوړښتونو، کارکوونکو او روغتیایي پرسونل او په پای کې روغتیایي وسایطو باندې ناوړه اغیزې ولري پاملرنه کوي.

تر ګواښ لاندې د روغتیا ساتنې پروژه یواځې یو روغتیایي فعالیت

نه دی بلکه موخه يې د فعالیتونو لپاره د زمینه جوړونې، لار هوارول، آسانتیا او له خوندي او مناسبو شرایطو او چاپیریال څخه ملاتړ او خوندې روغتیايي خدمتونو ته لاسرسي دی.

د افغانۍ سرې میاشتې ټولنه د يو ناپلوه، خپلواک او بشرپال بنسټ په توګه، د روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو د آسانه او خوندیتوب بهیر او روغتیا ساتنې ته د ټولیزې لاسرسی په موخه پریکړه کړې ترڅو د نوموړې بهیر څخه د ملاتړاو روغتیايي خدمتونو ته د لا زیات خوندیتوب او لاسرسي لپاره، له بیلابیلو روغتیايي بنسټونو، د غورځنګ د مرکبې په همکارۍ او همغږۍ، د جګړې ښکیلو خواوو او اړوندو دولتي ارګانونو سره بحث او نظر شریک کړی او هر اړخیزې هڅې یې کړې ترڅو اغیزمن فعالیتونه رامنځته کړي.

په اوسنۍ لاربسوونه کې هڅه شوې ترڅو هغه موارد چې د پورتنۍ پروژې لپاره اغیزمن وي وپیژني او د غورځنګ د مصوباتو او د موضوع په اړوند د ملي ټولنې د ژمنو د تحقق لپاره بنستیز ګامونه اوچت کړي.

## د اوسني وضعیت شننه:

د افغانۍ سرې میاشتې ټولنه د يو ملي او بشرپال بنسټ په توګه د تصویب شوې اساسنامې پربنسټ او د نړیوالو میثاقونو او ژمنو په رعایت سره او سره صلیب اوسرې میاشتې نړیوال غورځنګ د غړې

په توګه د طبیعي او غیر طبیعي پیښو زیانمنو ته د بشرپالو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره هڅه کوي او د بشري دردونو د کمولو په لاره کې د یوې مسؤلې ادارې په توګه بیلابیل ګټور پروګرامونه طرح او پلي کوي. د افغاني سرې میاشتې ټولنې د تأسیس راهیسې هڅه کړې ده ترڅو د خپلو کارکوونکو او د رضاکارانو د جلب او جذب له لارې د هیواد په کچه د ۳۴ نمایندګیو او د رضاکارانو د شبکې له لارې عادي او بیړنې خدمتونه وړاندې کړي او د هیواد په کچه د یو بشرپال ارګان په توګه یو ښه انځور رامنځته کړي.

څه دپاسه درې لسیزو جګړو د افغانستان ټولې شتمنۍ له منځه وړې او یا یې یو څه زیانمن کړې دي، جګړې او نا امنې لامل شوې چې انسانپال خدمتونه په یو شکل سره شاید د ټولنې تر ټولو زیانمن، اړو او  مستحقو کسانو ته نه وي رسیدلي او ډیر کسان له مړینې سره مخامخ کړي. له ډیرې مرګ ژوبلې څخه مخنیوی او روغتیایي خدمتونو ته د اړمنو کسانو رسیدنه د ځانګړې اهمیت څخه برخمنه ده او په روغتیایي تأسیساتو باندې بریدونه، برمته کوونه او د روغتیایي کارکوونکو وژنه او هم د هغوی پر وړاندې تاوتریخوالی او یا هم د هغو وسایطو غلا کول کوم چې روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي، ورځ تر بلې ډیریږي، امنیتي ستونزې او ځینو لیرې پرتو سیمو ته د دولت نه لاسرسي څه ناڅه ډیر شمیر کسان یې روغتیایي خدمتونو ته له لاسرسي څخه بې برخې کړي دي چې له هغې جملې څخه کولای شو د پولیو واکسین څخه

يادونه وکړو کوم چې د هر ماشوم حق دی.(په پای کې ملي ټولنې له عامه وزارت سره په هوکړې سره د پوليو واکسين په هغو سيمو کې پلي کوي کوم چې دولت ورته لاسرسي نه لري).

له همدې امله د ټپيانو او ناروغانو، تأسيساتو او روغتيايي کارکوونکو او د هغوی د وسايطو د خونديتوب ساتنه د ناپلوی، ناپييلتوب، خپلواکی او د بشرپالنې د اصولو په رعايت سره د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه او له بلې خوا روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي له لومړيتوبونو څخه شميرل کيږي.

د افغاني سرې مياشتې ټولنې د کارکوونکو، وسايطو او روغتيايي تأسيساتو د خونديتوب د تأمينولو په موخه يوه لاربښوونه چمتو کړې او پورتنيو ياد شويو موخو ته د رسيدو لپاره د خپل توان او امکاناتو په حدودو کې د روغتيايي او غير روغتيايي اړوندو بنسټونو سره په همکارۍ او همغږۍ هڅه او کوښښ کوي.

## موخې:

– له توپير څخه تش او کارکوونکو، تأسيساتو او روغتيايي وسايطو ته د درناوی د خوندي روغتيايي خدمتونو د ډيرولو او وړاندې کولو په موخه پوهاوي او پوهيدنې لوړول.

– د کارکوونکو، تأسيساتو او روغتيايي وسايطو په وړاندې د تاوتريخوالي د کمولو په موخه د جنيوا د کنوانسيونونو، د بشرپالنې

د نړیوالو حقونو، د ملي ټولنې د نوي قانون، د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د نړیوالو کنفرانسونو د مصوباتو او د غورځنګ د بنسټیزو اصولو پر بنسټ هڅه او ځواب غوښتنه.

- له خوندي روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو څخه ملاتړ.

- د معلوماتو راټولول (د پیښو په اړه).

## کاري روښتونه:

### ۱ - ډیپلوماتیک فعالیتونه:

د خنډونو د لیرې کولو، د لاسرسي د ډیرولو، د خوندي روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو د بهیر د آسانه کولو او ملاتړ په موخه لازمه ده ترڅو د افغاني سرې میاشتې ټولنې چارواکي د هیواد له اړوندو وزارت خونو او روغتیايي بنسټونو سره کله ناکله اړیکه ولري او د غونډو په لړ کې د خوندي روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو، د تأسیساتو، کارکوونکو او روغتیايي وسایطو د ساتنې، روغتیايي تأسیساتو ته د ټپیانو او ناروغانو د لاسرسي د بهیر د آسانه کولو او د هغوی په لاره کې د غیر قانوني خنډونو په لیرې کولو کې هڅه او کوښښ وکړي. د افغاني سرې میاشتې ټولنې چارواکي د تأسیساتو، کارکوونکو، ټپیانو او ناروغانو او روغتیايي وسایطو پر وړاندې د تاوتریخوالي د اعمالو او د خنډونو د رامنځته کولو څخه په راولاړو شویو پیښو باندې بحث او هڅه کوي، دارنګه

موارد د افغانستان په قانون کې جرم وبلل شي او قانوني څیړنه ولري. په دې مهال کې به د ملي ټولنې چارواکي د غورځنګ د مرکبو له غړو سره په همکارۍ او همغږۍ هر اړخیزې هڅې او ځواب غوښتنه ولري.

## ۲ - خپرندوی فعالیتونه:

روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي له اهمیت څخه د پوهاوي او خبرتیا په موخه او د اړتیا پر مهال یې د وسله والو شخړو او نورو بیړنیو شرایطو په لړ کې وړاندې کیدنه، پراخ خپرندوی فعالیتونه، د ټولنو له بیلابیلو خلکو سره د پوهاوي د غونډو جوړونه، کارکوونکو او رضاکارانو، عامو خلکو، علماوو، د ټولنیزې شورا غړو او اړوندو بنسټونو لپاره د ښوونیزو پروګرامونو جوړونه ده ترڅو کوم تاوتریخوالی چې د ناپوهۍ له امله رامنځته کیږي لیرې شي.

## ۳ - عملیاتي چارې:

د ملي ټولنې له ټولو کارکوونکو او رضاکارانو څخه تمه کیږي تر څو د روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو کې د ناپلوي، ناپییلتوب، خپلواکي او د بشرپالنې اصل رعایت او هم د وسله والو شخړو او نورو بیړنیو شرایطو او سولې پرمهال دې د اخلاقي اصولو او د خوندي لاسرسي له سمو روښتونو څخه پیروي وکړي ترڅو د افغاني سرې میاشتې ټولنې او غورځنګ د ناپلوۍ، خپلواکۍ او د ناپییلتوب ونډه پیاوړې شي او د بشرپالو خدمتونو په وړاندې کولو

کې په ځانګړي توګه د خوندي روغتيايي خدمتونو په وړاندې کولو کې د افغاني سرې مياشتې ټولنې او غورځنګ باور زيات شي.

په پروژې پورې د اړوندو ادارو مکلفيتونه:

## ۱ - د افغاني سرې مياشتې ټولنې چارواکي:

**i.** تر ګواښ لاندې د رغتيا ساتنې د موضوع په اړوند، د هيواد د نافذه قوانينو، مصوباتو، ژمنو، ميثاقونو او پروتوکولونو د رعايت او د ملاتړ د جلبولو په موخه د غورځنګ د مرکبو له غړو سره په همغږۍ د روغتيايي خدمتونو د بهير او وړاندې کولو د آسانتيا په اړوند بحث او ډيپلوماټيکې هڅې.

## ۲ - د نړيوالو اړيکو رياست:

**i.** تر ګواښ لاندې روغتيا ساتنې پورې د اړوندو غونډو همغږي

**ii.** تر ګواښ لاندې روغتيا ساتنې پورې د اړوندو پيغامونو او مقالو ليکل

**iii.** د اطلاعاتو او خپرونو رياست سره په همکارۍ او همغږۍ د ګواښ لاندې روغتيا ساتنې پروژې پورې اړوند، د پوهاوي د توکو خپرونه

**iv.** له اړوندو ډيپارټمنټونو سره د اړوندې پروژې د معلوماتو، ريپوټونو او اسنادو شريکول

## ۳ - د اطلاعاتو او خپرونو رياست:

i. د خوندي لاسرسي د ښوونيزو پروګرامونو جوړونه

ii. د بشرپالنې د نړيوالو حقونو د ښوونيزو پروګرامونو جوړونه

iii. تر ګواښ لاندې د روغتيا ساتنې پروژې پورې د اړوندو پيغامونو، مقالو، بروشورنو، کتاب او د نورو خپرندويو توکو خپرونه

iv. له علمي بنسټونو، ديني علماوو، ټولنيزو شوراګانو او روغتيايي بنسټونو سره د اړيکو ساتل او ترګواښ لاندې روغتيا ساتنې پورې د اړوندو موضوعګانو خپرونه.

v. د روغتيا ساتنې په وړاندې د تاوتريخوالي د کمولو لپاره ديني علماوو، قومي مشرانو مخورو، عامو خلکو، د خلکو د شوراګانو او نورو اړوندو مراجعو سره د غونډو جوړونه

## ۴ - د روغتيايي خدمتونو رياست:

i. د افغاني سرې مياشتې ټولنې د نښان قانون سره برابر د کارکوونکو، وسايطو او تأسيساتو سمبالول

ii. له ناروغانو او ټپيانو سره د اخلاقي اصولو او چال چلن په اړه کارکوونکو او روغتيايي پرسونل لپاره د پوهاوي ښوونيزو پروګرامونو جوړونه

iii. د سرې مياشتې او غورځنګ د اوه ګونو اصولو او همدارنګه د

بشرپالو او رغتیایي عملیاتو پر مهال د اخلاقي اصولو او چال چلن رعایت ته پاملرنه

iv. د روغتیا ساتنې په وړاندې تاوتریخوالي څخه د معلوماتو د راټولولو په موخه د تر ګواښ لاندې روغتیا ساتنې پورې د اړوندو پیبنو څخه د معلوماتو او ریپوټ وړاندې کول

v. د هیواد لیرې پروتو سیمو کې د لارو د بندیدو، لاریونونو او روغتیایي تأسیساتو ته د نه لاسرسي پر مهال، د ګرځنده روغتیایي ټیمونو پواسطه، روغتیایي موادرو لپاره چمتووالی

## ۵ - د ځوانانو او رضاکارانو ریاست:

i. د روغتیا ساتنې په وړاندې د تاوتریخوالي په اړوند د معلوماتو د راټولولو په موخه د رضاکارانو په واسطه د روغتیا ساتنې په وړاندې د تاوتریخوالي له پیبنو څخه د ریپوټ وړاندې کول

ii. د رضاکارانو په واسطه د روغتیا ساتنې په وړاندې د تاوتریخوالي د کمولو په اړوند د پوسټرونو، کلیدي پیغامونو او معلوماتي بروشورونو په خپریدو کې همکاري

## د حقوقي کمیټې او بشري ډیپلوماسۍ ریاست:

i. د کارکوونکو، ټپیانو، ناروغانو، تأسیساتو او روغتیایي وسایطو د لا ځوندیتوب د تأمینولو په موخه د ناپیيلي او ناپلوه روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو څخه ملاتړ

## بیاکتنه او بیا نظر ورکوونه:

دې لارښوونې ځخه په هر دوه کلونو کې یو ځل بیاکتنه کیږي او د غورځنګ له مصوبو د ملي ټولنې د ژمنو او هیواد کې به شرایطو سره سم بیا کتنه او نوې شي.